**ليکونکی: ایریک والدبرګ (Eric Waldberg).**

**منبع او دخپريدو نیټه : ګلوبا ل ریسرچ «2019-04-10».**

**ژبا ړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م « مل» .**

---

# سومالیا ، افغا نستا ن : د دوه ناکامو یا د نا هیلو دولتونو داستا ن

## Somalia , Afghanistan : A tale of two failed state



سوما لیا یوائې په کا ل (1960)کی خپلواکي تر لاسه کړ اوستر جنرال **سعید با ری** (Said Barre) په کال (1969) کی دیو کودتا په سرته رسولو سره واک تر لاسه کړ ، سوما لیا په دی بریا لي شو چی له بریتا نیا یا نو ، ایتا لیا یا نو څخه آزادی تر لاسه کړي اوپه هیواد کی د سوسیا لیستی رژیم چي دشوروی اتحاد له نظره ددریم نړي له مُدل څخه شمیرل کیده په سا تنه کی بریا لی شی کوم چی لاترهغه وخته نوموړی هیواد دامریکایانو تر هد ف لاندی نه وه په نښه شوی یا نه وه پریوتي اودبلی خوا څخه په کا ل (1974) ایتوپی (Etophia) د مصر د جمال عبد النا صر په څیر کودتا ترسره کړ اوهغه هم په دی مخه چی هلته یعنی په ایتوپیا کی سوسیالیستی رژیم ټینګ کړي همدارنګه په سودان کي دیو سوله ایز سیا ست پخپل کولو سره ډګروال غفار نیمیری(Gaafer Nimeiri) دناصر په شا ن سیاست پلی کړ. د نکرومایو (Nikrumah دګانا دآزادی با نی ، لمړی جمهور ریس اودهغه هیوا پیشوا) د خوب په تعبیر چی شا ید متحد سوسیا لیستی افریقا په ریښتینی بنی سره به را مینځته شی چی په واقیعت کی به صحیح او ریښتیا اووسی .

د نړی په سر کی ا فغا نستا ن هغه هیواد وه ، چی سوسیالیزم ته درسید و لپاره لکه د سوما لیا په شا ن ورته لاره تعقیبول که څه هم چي یو څه ځند ید لی وه ، اودغه هیواد د (1920) څخه را هیسی په سوله او ا رامی کی پا تی شوی وه ، او په شما ل کی

د سوسیا لیستی پلوه سولی سره پوره پیژند ګلوي پیداکړی وه اوپه تتدریجی بنی سره ونوی کیدو یا دمدرنیزی په لور ګا مونه اوچتولُ اما څرنګه چي په سومالیا کی ترسره شوی وه دلته هم روشنفکرانو دسوسیا لیزم په مفکوری سره سمبا ل شوی وه .

شوروی اتحاد ددغه هیواد دپاره یو ښه ګاونډی هیواد وه اوداځکه چی ددغه هیواد سره دزده کړی اوپه ځنو نورو برخو کی ستر مرستی تر سره کوله . اوهم دافغانستان ددولت سره د پښتونستا ن د داعیی په ا ړه خپل چمتوالی ښودل ، پاکستان دافغانستان دپاره یو اوسپنیز ایږه (خرس) وه اوبیا په ځا نګړی بنی کوم چی پا کستان د کمونیزم پر ضد وه اوهم د سوسیا لیستی پلوهند پرضد د کشمیردکشالی په اړین آشتی نه منونکی هیواد اودامریکی دمتحده ایالاتو د ستراتیژی ملګری هیواد په بنه دهند سره دښمن هیواد تل پا تی شوی دي په افغانستان کی ناهیلی اوډیر ستړی او ستوما ن پا چآ ( محمد ظاهر شاه ) دخپل تره ځوی (محمد داودخان) پواسطه سره له قدرته را نسکور شو یعنی دهغه چا پواسطه سره چي هغه د پښتو نستا ن له داعی په کال (۱۹۷۳) کی ملاتړ کول اویا د هغه کلک غوښتونکي وه ، اما شوروی اتحاد په دی پړاو کي دافغا نستا ن په بدلون سره کومه ځانګړي علا قمندی ونه ښودل اما کله چی په کال (۱۹۷۸) کی کمونیستا ن ونیول شواوبیا قدرت ترلاسه کړل شوروی اتحاد خپل پاملرنه دغه هیواد ته واړول . اما نړی د (۱۹۶۹) کا ل په پړتله دموقف له نظره په مخلفو ځا یونو کی قرار لرل چی د نړی نظر څو بعُدی وه اودا فغا نستا ن کمونیستان دپا ره هیح یومساعد فرصت ترلاسه نشول.

سره له دی چي افغان او سومالیا په ورته بنی سره په کار پیل کړي وه اومختلف لاری خپله کړی وه اما دواړه هیوادونه دپوره ناکامی سره مخامخ شول ، مګر سره له هغه چی دغه دواړه هیوادونو خپل مرام ته ونه رسیدل مګر لاتر اوسه دا مریکی د متحده ایالاتو د بی پیلوته الوتکو د بمباریو تر ګواښ لاندی سختی ورځی تیروی .

| | Somalia | | Afghanistan |
|---|---|---|---|
| 1884-<br>-1954 | independence struggle and Ogaden split with Ethiopia | 1838-<br>-1893 | Indedependence struggle and Durrand Line border |
| 1969 | Coup and socialist military regime under Barre | 1973 | Daoud coup |
| 1977 | Ogaden war | 1978 | Socialist coup |
| 1980 | Switch to US backing | 1980 | Soviet invasion, US backs rebels |
| 1991 | US overthrows socialist leader | 1989 | Soviet withdrawal |
| 1990s | Warlord chaos -> Shabab | 1990s | Warlord chaos -> Taliban |
| 2001 | US bombing Shabab | 2001 | US invasion, bombing Taliban |
| 2006 | US rejects ICU truce | 2006 | Taliban resurgence |
| 2007+ | US drones and bombs | 2007+ | US troop surge, drones, bombs |

**ترجمه جدول فوق در ذیل**

| ا فغا نستا ن | | سوما لیا | |
|---|---|---|---|
| مبارزه برای آزادی مرزخط دیورند | -1838 1893 | مبارزه برای آزادی وجدایی اوگا دین از ایتّویا | -1884 1954 |
| کودتای سردار محمد داود | 1973 | کودتا ورژیم نظامی سوسیالیستی تحت نظر با ری | 1969 |
| کودتای سوسیا لیستی | 1978 | جنگ اوگادین | 1977 |
| تجاوز شوروی وحمایت از اشرار توسط امریکا | 1980 | مبادرت به حمایت ایالات متحده | 1980 |
| خروج سربازان شوروی | 1989 | سرنگونی رهبر سوسیالیزم توسط امریکا | 1991 |
| هرج ومرج جنگ سالاران - طالبان | 1990 | هرج ومرج جنگ سالاران - شباب | 1990 |
| تجاوز امریکا وبمب گذاری بر طالبان | 2001 | شباب تحت بمبارد امریکا | 2001 |
| فعال شدن مجدد طالبان | 2006 | ردمتارکه توسط امریکا به پیشنهاد اتحاد بین المللی سلامت | 2006 |
| افزایش سربازان ؛ هواپیماهای بدون سرنشین وبمب گذاری توسط امریکا | 2007 | بمب گذاری توسط هواپیماهای بدون سر نشین امریکا | 2007 |

## دامپراتوری دغچ اخیستنی سحرآمیز تا ریخچه:


د سومالیا دهیواد ټول نفوس( 3، 12) ملیون وګړی اود ا فغا نستا ن مجموعی نفوس (32 میلیون وګړی دی ، سوما لیا دا سلامی دولتونو تر مینځ تر ټولو غوره کم ترکمه زرکلن تا ریخی سوابق لرونکي هیواد دی کوم چی دافریقی په ستراتیژیک ښکر (شاخ) کی دیو تجا رتی هیواد په بڼه پیژندل شوی دي .سوما لیا لکه د نورو افریقا یی هیوادونو په څیر کله چی د نولسم پیړی په وروستیو کی یعنی د (1884) کا ل د برلین دکنفرا نس څخه چی اروپا یی ځواکونه پر افریقا با ندی دواک اود ولکی د ترلاسه کولو هلي خلی راپیل کړل ، نو دغه هیواد دیو لنډ مو دی دپا ره د ا نحطا ط سره مخا مخ شو .

د ا مپریا لیزم په مقا بل کي وروستي قهرمانانه مقاومت کی **محمد عبد الله حسن** (Mohammad Abdullah Hassan) کوم چي هغه دافریقا د ښکر د میشتو هیوادونو له خوا ملا تړ کید ل ، نوهغه داستعمار په مقابل کي داوږدی مودی دپاره په مبارزه لاس پوری کړ چی کم ترکمه (20) کاله دوام وکړ حسن داسی ادعا وکړ چی انګریزانو زمونږ دین له مینځه وړی اوزمونږ کوچنیان یی خپل کوچنیا ن ګرځولی دي ، اود ایتوپیا مسیحیان دبریتا نیا سره په پیوستون کي د سوما لیا د خلکو سیا سیی او مذ هبی آزادی چپاول کړی دي حال داچی نور تول اسلامی هیوادونه دا احساس لری چی مسیحیان تیری کونکی ځواک دی کوم چي سوما لیا هم په لاره کی اچول شوی ،کله چی دعثما نی امپراتوری رنګ شو اوبریتا نیا د نړی د لمړی جګړی وړونکی شو – نو چرچل دآزاد لاس په لرلوسره په کال (1920) کی پر لیونی ملا ( محمد عبد الله حسن) اود سوما لیا پر قومونو با ندي لکه همغسی چي پرعراق با ندي بمونه غورځولی وه مخکی له دی چی د **درویش حسن** دولت ونړوی د یرغل هڅی تر سره کړ . اوسوما لیا د یو تحت الحما یوی هیواد په بڼه د ا نګریزانو ترولکی لاندی پریوتل ، یعنی چی ا نګریزا نو په کا ل (1921) کی د سوما لیا سهیلی برخه تر خپل تسلط لاندی راوستل اوا یتا لیا یا نو دهغه هیواد شما لی برخه ونیول – دغه دوه استعماری هیوادونه سره په دی لټه کی شول چی د خپل تر ولکی ا و تر استعما ر لا ندی برخو کی مصنوعی پو لی یا سرحد وټاکي نو هغوی په ډیره ورین تندی اومسا لمت آمیزبرخورد سره پر **اوګادین** (Ogaden) باندی سره بحث وکړل – اما متحده ایالات د د وهم نړیوال جګړی له دوران څخه وروسته دا ستعما ر د له مینځه وړلو (Decolonization) غوښتنه وکړ او د ایتوپیا مسیحیا ن وتوانیدل چی په کال (1954) په منطقه کی دا مریکی ملا تړ تر لاسه کړی (کوم چی په هغه سیمه اویا منطقه کي دیرغلګرو اود سوما لیا دډیرو محلی قوما ندانا نو پولی یا سرحدونه وه .

بریتا نیا اوایتا لیا د سوما لیا نیونکیی او ساتونکی دسوما لیا په اړه هیڅ دا سی یو دکشا لی خبری پخپل مینځ کی سره نه درلودل نو هغوی خپل استعماری کرښه د اوګادان (Ogaden) له مینځ څخه کوم چی هلته زیا ت سوما لیا یا نو میشته وه د لندن ، روم اود واشنګټن دلوبغا ړو په هدایت سره راوکیښل . اوکله




چی په کال (1960) کی سومالیا خپل آزادی تر لاسه کړ ، نوپه هغه وخت کی دایتوپیا سره په پوله کي دوخت بم چاودنی پریښود



افغا نستا ن د یو متحد هیواد په بڼه یو لنډ تا ریخ لری اما ډیر روښا نه اوږد یر سره برابر، داسلام څخه د مخه ددی هیواد خلک **دبودایي** اود **زرتشتی**(zoroastrians) دین پیروان وه . دشپاړلسم پیړی په آوایلو کی مخکی له دی چی **با بر** پرهند با ندی حمله وکړی کا بل یی دمغول دامپراتوری پلازمینه وتا کل. افغانستان یوائځی په کال (1773) کی د **احمد شاه درانی** تر واکمنی او ترحکومت لاندی دیومستقل هیوادهویت تر لاسه کړ.

ا فغا نستا ن دنولسم پیړي په اوږدو کی د بریتا نیا دامپریالیزم سره دری جنګونه ( چی په دغه جګړو اوبیا په ځا نګړی بڼه په کال «1842» دانګریزانو زیات شمیر سرتیری اونظا میا نو د ا فغا نا نو سره په جګړه کی خپل ژوند دلاسه ورکړل ) تر سره کړ. ا ما ا نګریزانو په پا یله کی د **امیرعبدالرحما ن** خان سره په کال (1893) یو تړون لاس لیک کړچی ددی تړون په واسطه سره پښتا نه یی د **دیورند** دتحمیلی کرښي په راکیښلو سره جدا اوبیل کړاولکه د سهیلی سومالیا په شان دلته یوه نا چا ودلی بم د دیورند دکرښی په نوم پرییښود .

## **دوخت بمونه** :

**دیورند** کرښه او د پښتونستا ن مثله له هغه مهمو موضوعا تو څخه وه چی د **داود خا ن** دقهر او د ډیر خشونت له امله خپل د کا کا دځوی پاچاهی ړنګ او هغه یی له قدرت څخه را نسکورکړ اما په دی وخت کي شوروی اتحاد ونه غوښتل چی افغا نستا ن د پا کستا ن سره دهغه دوه مسلی (ددیورند کرښه او دپښتونستان داعیه ) پرسر په جنګ را ښکیل شي ، یا داچی د ا فغا نستا ن څخه ملاتړ وکړی بلکه شورویا نو د لوی لوبی (Great Game) سره دشخړی له مینځه وړلو لوبی ولوبول ، کوم چي دشوروی اتحاد ددغه سیا ست په پلی کولو سره د نا سیونا لسیت **سردار محمد داود خان** هیلی تر سره نشو نو په همدی وجهی سره هغه خپل مخا لفت دافغان کمونیستا نو کوم چی د شوروی اتحا د تر ملاتړ لاندی وه څرګند کړ او دافغان کمونیستا نو په کا ل (1978) د داود ځان پر ضد کودتا وکړ چی په پای کی دا وضع پخپله د یوداخلی جګړی موجبات را برابرکړ کوم چی د کمونستا نو رژیم هم ختم شو - دا دسومالیا د **اوګا د ین** (ogaden) په څیر ورته سنا ریو ته پا تی کیږی کوم چی **(با ری)** پخپل دوران کی غوښتل چی په کا ل (1977) کی د ا یتوپیا سره یو نوی (معقول) سرحدی کرښه ویرانیځی ، شوروی اتحاد د خپل ملا تړ څخه صرف نظر وکړ یعنی چی دعدم تشدید یا د د یتا نت پا لیسی څخه پیروی وکړ . نوکله چی جګړه د ا یتوپیا سره پیل شو نو په پا یله کی د سومالیا د سوسیا لیستی رژیم د نسکورید شرایط هم مساعد شو.

لاند نی انځورد قهرمان حسن په کا ل (1991 ) ر ا ونړول شو او بیا دامریکی دمتحده

ایالاتو دهلي ځلی سره لمړی د (باری) سیوسیالیستی رژیم بی اعتبار او بدنام کړ شو اوبیا په کال (۱۹۹۱) کی دشوروی اتحاد په ړنګیدو سره **باری** هم له قدرته ولویدل او سومالیا د جنګ سالارانو پواسطه سره اداره کیدل کوم چی هغوی ته دغرب له طرفه جنګی او وژونکی سلاح او مهمات مرسته کیدل ترهغه چی بیا تورشاهین د یو فراخوان سره په کال (1992) را بیدار کیږي .



هماغه د سوما لیا دجنګ سالارانوپه

ورته بڼی سره دلته په افغانستان کی په کال (1990) کی هم رامینځته شو او وروسته له هغه دکمونستانو اخری مشر **دوکتورنجیب الله** د طا لبا نوپواسطه سره په کال (1995) کی په قتل ورسید او بیا له سره همغه افراطی اسلامی او مذهبی اسلا مګرایا ن کوم چی خلکو دهغو سره ډیر سوځونکي کرکه درلود د امریکی پواسطه سره را پیدا شوی خلا ډکه شو.




## مخالفان:

ولی دامریکی متحده ایالات د دواړو هیوادونو (سوما لیا او ایتوپیا) په کمزوره کولو با ندی لاس پوری کړ، له دی نه چی با ید د د یتا نت پا لیسي یی پلی کړای واي اوپه افریقی کی دشوروی اتحاد سره په ګډه د (با ری) سره د«لوی سومالیا » په سا تنه

کی دافراطی اسلامی ډلو ټپلو مخه نیولی وای او زمینه دی ته چمتو کړای وای چی ایتوپیا اوسومالیا خپل ستونزی دمذاکراتو له لاری حل وفصل کړای وای دهغه هیوادونو په کمزوره کولو باندی په کال (1980) لاس پوری کړ.اوهمدارنگه په مرکزی آسیا کي دشوروی اتحاد سره په گډه دافراط گرایی په وړاندی مبارزه کی دببرک کارمل درژیم دټیکاو دپاره کار ونکړ یا دهغه درژیم څخه ملاتړ ونکړ .

نوکه چیری دامریکی متحده ایالات دشوروی اتحاد سره په گډه مرسته کړای وای نو په هغه صورت کی «اوگا دین »په افریقا اود «پښتونستان »کشا لی به په ښه بڼی سره حل وفصل اوښه مدیریت کیدل .

کا ل(1970) د دیتا نت کا ل نومولی شوی وه کوم چی هر ډول شخړی کیدای شو چی د مذاکری په لار حل شی او غوره مطلب دا وه چی شوروی اتحاد د د یتا نت د پا لیسي په رعا یت کولو سره د (با ری) د رژیم د یرغل څخه پر **ایتو پیا** با ندی خپل توافق ونه ښودل اودهغه څخه ملاتړ ونکړ اوهمدارنگه شوروی اتحا د نه غوښتل چي خپل سرتیری ا فغا نستا ن ته ولیږی اوداځکه چی شوروی اتحاد زیات تما یل لرل چی دامریکی سره د نړی د تشنج د له مینځه وړلو د پا ره سره گډه همکا ری وکړی.

اما دافسوس ځای دا دی چی امریکا د ریگان (Reagon) دحکومت اود اداری تر سرمشریزدټولوسیوسیا لیستی پلوهیوادونوسره په جگړه اومخا لفت اود هغود رانسکورول د پا ره گا مونه اوچت کړ( اسلام گرایا ن او ا فراطیان یی په ا فغا نستا ن کی په قد رت ورسول ) دهغوی یعنی د امریکا یا نو اودهغه سره دهغه دمتحد ینو بریالیتوب دشوروی اتحاد په وړاندی یو ډول لکه د(روم د پا یرس امپرا توری ) په شان زیان منونکی ما تي وه او امریکا یا نو د پاره د حل یواځنی لاره دا وه چی افرا طی ا سلا می ډلو ټپلو ته لاره اواره کړچی په سومالیا ، ا فغا نستا ن او ایتوپیا کی واکمن شی او امریکا یا نو په دی ډول د داعش(ISIS) طاعون ( دبوشنها « د جنوبی افریقی وطنی خلکو» د تروززیم پولي) ډول تروریزم یی رامینځته کړ.

نو آیا د لته داسی دخوښي کوم خبری شته ؟ یا داچی افغا نستا ن دسوما لیا د واقعا تو څخه دعبرت درس اخیستی دی ؟ یا دا چی امریکا یا نو د خپل لوبی د پا یلی درسونه تر لاسه کړی دي ؟

## **کډوالو** :

دامریکی متحده ایالات له کا ل (1979) څخه را هیسي دسومالیا اود ا فغا نستا ن د هیوادونو د کمزوره کولو او د ما تي ورکولو( ا یتوپیا مو له یاده ونه وځی) پا لیسی خپله کړه کوم چی د دی هیوادونو د نا رامیی اود بی امنیتی له امله په نتیجه کی ډ یر خلک له مجبوریته کډ والی ته مخه کړل ، اوهڅه داوه چی د وی دامپریا لیستی هیوادونو په مرکزونوکی چیری چی هلته د تروریستا نو شمیر کم او د کا لیو د پیرودلو د پا ره

محصولات زیا ت دی میشته شی ، اما دا تیکی په نظر کی نه وه نیول شوی چې په دی مراکزو کې د کډوالو سره دتروریستا نو میشته کیدل پخپله غرب او امپریالیستی هیوادونو ته سرخوږی پیداکوی لکه چې اوس د اموضوع دغرب دپاره یو لوی ستونزی را مینځته کړی دي.

د سویډن حخه متحده ایالاتو ته له یوملیون زیات سومالیا یی کډوالو مهاجر شوی دی اودغه کډوال شوی سوما لیا یان له مجبوریته د قبیلوی سیستم په را تیبتولو ا ویا په را کمولو با ندی لاس پوری کړي دي سره له دی چې لاتراوسه سومالیا یی قبیلوی سیستم دهغو په مینځ مروج دي اوهغه داچی مها جر سوما لیا یان په کا فی اندازه سره کولای شی چی یو قبیله په یوه (ټولنه) وا ړوی . سوما لیا یی امریکا یا نو یولړ څه زیا ت سره بیل اوجدا شوی دی هغوی غواړی چې ځنی شیا ن لا پسی سخته کړي. اما د سومالیا یانو دکډوالو دوهم نسل دی موضوع سره کومه ځانګړی علاقمندی نه لری .

په غرب کی سومالیایی وژونکي قبیله ( Deadly Clansim ) دخپل ځانګړی حالت اویا کرکتر په لرلو سره داسي ترسترګو کیږی چې هغوی یو رنګ نوی رامینځته شوی قبیله دي .

دتیت اوپرک یهودی ټولني څخه یو سومالیا یی ستوری (star ) ایلخان عمر( Ilhan Omar) چی په کال (2016) په کنګره کی له کپیتل هال ( capitol hill) څخه چوکي تر لاسه کړه حیرانونکی بریښی اوهغه داچي څوک فکر کاوه چی یو سوما لیایی ښځه چی د سولی غوښتونکي نظر لری وشی کړلی چی سوما لیا ته د **دونا لد ترامپ** د سفر مخه ونیسي .

ا فغا نستا ن له دری لسیزو څخه را په دي خوا یو له هغه هیوادذونو څخه دی کوم چی دکډوالو په رامینځته کیدو اوتو لید کی برلاس لري ، امریکا اود بین المللی امنیت د مرستندوی هیوادونو ځواک (ایسا ف) هغه لړ شمیر ا فغا نا نو ته چی د هغوی سره کارکول په سختی سره هغوته چا نس ور په برخه شوچي نوموړی هیوادونوته مهاجرشی اویا چی دهغوی پناهند ګي ومنل شو.

په غرب کي لړ ترلږه د **سوما لیا یا نو** په پرتله تر (130000) افغانانو ّپه متحده ایالات اوکاندا کی په کال (2016) کی مهاجر شوی دي اما مهاجر افغانان په متحده ایالاتو کی په بی محنت اوپه آ سنتیا سره په ډ یر بیړه بنی سره د دلار د تر لاسه کولو چانس لکه د سوما لیایا نودکډوالو په شان نه لرل د سومالیا یا نو لړ یهودی مذهب تیت اوپرک قبیله ای خلک په غرب کی ډیر زر شتمن شوی دي . حا ل داچي په میلیونو دلار دامریکا یا نو اود (نا تو) له خوا ا فغا نستا ن ته د طا لبا نو د له مینځه وړلو اود ورک کولو تر عنوان لاندی حیف ومیل یا غلاشوی دی .

له ا فغا نستا ن څخه ډیر نا می اومشهورمها جر(**ځلمی خلیل زاد**) دی سره له هغه چی

(خلیل زاد) لکه د (عمر په خیر) نه دی تاکل شوی خو اما د افغانستان د پاره په (1980) تر (2000) لسیزو پوری افغانستان ته دمتحده ایالاتو دستراتیژی په دننه (زړه) کی موقف لرل کوم چی دافغانستان دټولو ناخوالو اود فجیعو سیاستونو په پلی کولو کی ستر نقش لوبولی دی اودافغانستان ډیر بد او بدو بد تر غمناک مهاجر (عمر متین) وه چی په فلوریدا کی مخکی له هغه چي دټوپک خوله ځانته واړوی په هغه ټوپک سره په یو نایټ کلپ کی د (40) هیموسکچولو (مفعولو) ژوند دخاوری سره خاوری کړ او هغوی یی ووژل

## عمر« متین»



غربی هیوادونوته د سلونوزرومسلمانانو کډوالی ته مخه کول د (یهود عیسوی تمدن) کمزوری کول دی ، اما دا پخپله په واقیعت کی یواځی دامپریالیزم لپاره د یومستعار نوم د (یهود) یا (عیسوی) لږ څه نښه یا علامه دي کوم چی دغه مسلمانان دضد امپریالیستي په بڼه سره په تعریف نیسي او غرب دی ته اړباسی چی د اسلام سره مبارزه وکړی چی اوس دا پخپله دلوید یځ تولنیزی دبرخي یوه برخه شوی دی ترهغه چی حتی (متین) د تولنی دراوبیښید و لپاره یو رابلن لیک (فراخوان) ورکړ کوم چی خپل اخلاقی لاربنود( قطب نما) یی له لاسه ورکړ.

## نوی ډول مرستي :

سره دهغه چی امریکی ته د سوما لیا یانو دکډوالو مخه نیول کیږی ، اما بیاهم په امریکی کی مهاجرشوی کډوالوپه ملیاردونو ډالردخپل وران شوی هیوادخلکو ته لیږدوی چی دا دول تعاون له رسمی او بوروکراتیک مرستوڅخه ډیر ښه دی کوم چی دا پیسی له چپاول اوله غارت څخه خوندی پاتی کیږی هسی چي غرب مناسب ګڼی چی سیمیزو خلکو ته مرستی ورسیږی کوم چی هغوی مرستی ته اړتیا لری .
دا ډول کومکونه پخپل وارسره غربیان تر فشار لاندی غورځوی چی دوی په واقعی بنی سره که غواړی مرستی وکړی یا چی دهغو د مرستی پروګرامونه په واقعی توګه سره ترسره شی کوم چی د سیمیزو خلکو هغه ضروری اړتیا وی تامین کړ شی - چي

په دی ډول مرستو کی وړه پور(قرضی) ورکول (Microloan)، د تلیفون پواسطه سره بانکداري ، ، له سنتی تخنیکونو څخه دمدرن تکنالوژی په مرسته کار اخیستل کوم چې اوس فقیر بزګران هم کولای شی چې د دی تکنالوژی څخه کار واخلی . ستر کومکونه دی

## نه شبا ب، نه طا لبان !

د ا فغا ن طا لبا نو په څیر د سوما لیا طالبانو (شباب) لا هم پیاوړي دي ، دامریکی متحده ایالات ددی پر ځای چی هغوی ته د میز تر شا دمذاکری د پا ره ځای ورکړی پر هغو باندی په بمباری لاس پوری کړ، حال داچی د روغی جوړی لپاره فرصت تر لاسه شوی وه اوهغه داچی داسلامی عد ا لت اتحا د یه (Islamic Courts Union) په کال (2006) د شبا ب په شمول داسلامپا لو ایتلاف رامینځته اما امریکایانو دهغو دمذاکری وړاند یز رد کړ او وویل (چی مونږ د تروریستارنو سره) مذاکره اوخبری نه کوو.
متحده ایالات د خپل بی پیلوته الوتکو پواسطه سره پر هرهغه چا باندی چی د تروریست ګما ن کاوه په دواړه هیوادونو کی پر هغه باندی بمونه غورځول چی دهمدی بمب غورځونو په نتیجه کی زرګونو بی ګناه خلکوخپل ژوند دلاسه ورکړکوم چی دتلفاتو شمیر په دواړه هیوادونو کی لوړ لاړ او امریکا یا نو ددی ډول عملیا تونو د سرته رسولو لپاره نوی تازه کا ر خلک استخدامول ، امریکا یا نوسر بیره پرخپل حضور په افغانستان کي په سوما لیا کی هم د نظا می ځواکونو له صفوفو څخه تر (۵۰۰) نفر په غیر قانونی بنی سره دخپل مقاصدو دمخکی وړلو لپاره دمزدور یا داجیرانو په بڼه استخدام کړ کوم چی دوی د شبا ب لپاره د پا م وړ نه وه – د لته دا لوست (درس) د متحده ایالاتو لپا ره دی چی با ید زده کړه وکړی اوهغه داچی امریکا باید دطا لبا نو اود شبا ب وژنه ودروی دصلیبی سرتیرو جنګونه بند کړی یا دهغه مخه ونیسی اجا زه دی راکړی چی شبا ب او طا لبا ن پخپل ریښتینی خواکمنی با ندي باقی پا تی شي – داسلا می عد ا لت اتحا د یه دا فغا نستا ن دکشا لی لپا ره دیو مفکوری په ډول په نظر کی ونیول شی ، دنجات کمیټه چي په هغه کی (څو) زړه وړ، سا لم عناصر دامریکی دملاتړ لاندی له رژیم اودطالبانو څخه جوړ کړ شی اوهغوی ته دبخښنی فرمان صادرکړی او امریکا یا نو باید بیا له سره هغه فرصت د لاسه ورنکړی کوم چی په سومالیا کی په کال (2006) فرصت دلاسه ورکړ اود بی پیلوتو الوتکو د عملیا تونو روزنیز اردګاه جوړ کړ چی دهغه پا یلی دهیڅ یو لاسته راوړنی سره مل نه وه ، **ترامپ** دا فغا ن د طا لبا نو سره په مذاکره بخت دی چی لاتراوسه د هغه پا یلی نه دی معلوم؟

## له ایري څخه ققنوس(عنقا):

ولویدیځ هیوادونه اودهغه په راس کی دامریکی متحده ایالات په کا ل(2000) لکه

هغسي چي دافغانستان لپاره مخکی دسپتمبر دیولسمی نیتی د پیښیی در امینځته کیدو لپا ره هلی ځلی ترسره کول ، په سوما لیا کې تر خپل لاس لاندي د یو ملی انتقا لی حکومت (transitional national government) د جوړونی هڅه کول کوم چی اوس په افغانستان کی د همدی ډول انتقا لی ملی ترلاس لاندی حکومت په جوړونه کی بخت دي ، اما دیادوني وړمطلب دا چي بی دامریکی دتولو نظامی قوتونو اودهغه هیواد دسرتیرو دخارجیدو څخه نا ممکن دی چی دا سی حکومت په ا فغا نستا ن کی دعا مه خلکوپه مینځ کی خپل اعتبا روسا تي لکه همغسی چی کم ترکمه په سوما لیا کی امریکایانو ونه توانید ل چی د خپل خوښی یا د خپل تر لاس لاندی ګوډاګي مشر په پرا شوت کی راښکته کړی کوم چی امریکا یا نو تر خپل لاس لاندی حامد (کرزی) دیو په نوم سره انتقا لی ملی حکومت د مشر په بڼه په ا فغا نستا ن کی ځای پر ځای کړ چی دهغه حکومت په واقیعت کی هیڅکله یو انتقا لی حکومت نه وه بلکه د ناهیلیتوب اود موجوده شخړی د نها یی حل دلاری یو حکومت وه چي د امریکا یا نو په مټ سره را مینځته شو .

په کال (2009) کی یو ګوډاګي سومالیایی مهاجر د **محمد** (*تارزان*) په نوم د موګا د ښښو ښا روال منصوب شو مګر هغه ناهیلی او ما یوس شو چی ولی دامریکی متحده ایالات داسلامی عدا لت اتحادیي څخه لاس پرسرشویا دهغه پریکړی ته غاړه نه ایږدی کوم چی هغه نها دهڅه کول چي په مقا ماتوکی منا سب خلک په کاروګماری ، نو هیڅ یو داسی بی ارزش سړی یا پیشوا لکه د (حامد کرزی )په شا ن چی په افغانستان کی په کال (1990) دموقت حکومت مشر منصوب شو، نشو تر سترګی چی هغه ددی لیا قت اووړتیا ولری یا په سومالیا کی دا سلامی عدالت دا تحا دی او د خپل شاګردانو اویا د خپل پلویا نو سره په موافقه سره په سومالیا کی دیو ا نتقا لی حکومت سر مشری وکړی ولو که د هغه کا رونه لکه د یو را د یکا ل سلافیزم (radical salafism) په څیرپه دی هیله کار وکړی چی دغرب سره دیو کورنی په بڼه راشه اودرشه ولری اویا داسی د تګ اود راتګ پل پرانیځی..

د **محمد تا رزان نور** د ښا روالی له دندی څخه د (2010) تر(2014) کلونو څخه وروسته محروم کیدل دلیل دا وه چی په موګا د ښشو کی ترنیمیا یی زیات جنګ سالاران هلته دیرسیمی پخپل تصرف کی درلود او **محمد تارزان** وخت ناوخت دتیلیفون پواسطه سره دهغوله طرفه په مرګ ګوا ښید ل خصوصاً په هغه یو تراژدیک حمله کی چي په مودیست کوڅه کی د سولی اود بیا رغونی جشن نیول شوی وه په هغه کی څلور غیر نظامیان ( دهغو له جملی څخه یو هم د برس با ند مشر = brass band leader) تر ضربی لاندی پریوتل چی **محمد تا رزان نور** په لوخو ښپو له دی حملی څخه روغ رمټ وتښتید .

په موګا د پشو کې د فیستیوال د تیریدو څخه بالاخره وروسته له دوه میا شتې وقفې څخه د موګا د پشو ښا روال **محمد تا رزان نور** وتوانید ل چې په هغه ښا رکې برېښنا ، مکتبونه ، سړکونه بیا له سره ورغوی اود هغه ښا ر د شپې له خوا د ځوا نا نو د ګشت وګذار لپا ره وضع سم او مصون کړی هغه څه چې د لته د یا دونې وړ دی هغه داد دی چې **محمد تا ر زان نور** لکه **دحا مد کرزي** په شا ن ( چې په توقې سره هغه ته د کا بل ښار وال نوم ورکړ شوی وه ) هومره فا سد او بیکاره سړی نه وه یا داچې هغه د ښا ر دسړکونو په کنج وکنا ر کې د شپې له خوا د امریکا یې سرتیرو چې د خلکو پر کورونو با ندې حملې ورویسی دهغه کړنه اویا د هغه ذهن په اجتما عی برخه کې نه وه دلاسه تللی یاچې دامریکا یا نوپواسطه سره بلکل نه وه برمته شوی دهغه بریالیتوب دیو ښاروال په توګه دهیلی د ا مید واری د شرا یطو بیا له سره رغونه وه او هغه داچې امپریالیزم یواځنی ځای نا ستی نه دي .

سومالیا یی مهاجرانو له بهر څخه خپلو او خپلوانو ته د پیسو په را لیږدولو کی نه هیریدونکی نقش ترسره کوی او هغه داچې دوی په دی با وردی چې د هغوی ژوند د لته نسبت دهغو هیودوالوته چې هلته په هیواد کی په ډیرو ناوړو شرایطو کې ژوند کوی ډیر آسا ن دي لکه هغسی چې افغا نا نو اوس په افغا نستا ن کی ډیر ناوړی او سخت ژوند لري او دا په دی معنی نه دی چی **کرزی** ا و **محمد با رزان** با ید حتماً د سوما لیا او د ا فغا نستا ن رهبران با ید اوسید لی وای .

دامپریا لیستی دا ستا ن اوحما سی لا تر اوسه دوام لری ، دسومالیا اود افغان دخلکو یا د فکر دخاوندانو دسوسیالیستی دهیلو خوبونه کوم چې هغوی کم یا زیات سالم فکر کوی لاتراوسه کله ناکله په یاد راوړی یعنی د کال (1970)د سوسیالیستی دروش دپلی کولوورځی اویا هغه بدی ورځی چې دامپریالیزم پواسطه سره دمخه (سومالیا ) تر ولکی لاندی راځی یا داچې دافغا نستا ن دسکولاریزم د له مینځه وړلو دپاره هلی ځلی تر سره کیږي په هرصورت باید ښکاره څرګند شی او هغه داچې دافغانستا ن اود سوما لیا د خلکو ټول هیلې او امیدونه دخاوری سره خاوری شو او په ډیرتا سف سره با ید وویل شی چې ددی دواړو هیوادونو راتلونکی ډیر توره اوتیا ره ښکا ری او یوه هغه څه چې هیڅکله به له یا ده ونه وځی هغه داد دی چې سومالیا یا نو او افغا نا نو ته څه دهغوی مبا رزه اویا څه دهغوی نسکوریدل هغه ډ یرشتمن درسونه دی چې هم هغوی او هم امریکا یا نو ته دعبرت اخیستلو درسونه دی چې د تاریخ په پاڼه کی به تل پا تي شی .

----------------------------- **په ډیر درنا وي** «**2019-04-22**»